دا بدمرغه جګړه باید پای ته ورسي!

د نوي کال ۱۳۹۷ هـ ش کال د پیل راهیسي، په افغانستان کې دوه داسې دردونکي او خونړۍ پېښې وشوې چې زموږ په هېواد کې یې، د پردئ، تحمیلي ، بدمرغه، استخباراتي او کرغېړنې جګړې توره څېره یو ځلې بیا بربنډه کړه!

د نوي کال په لومړي ورځ چې د افغانستان خلکو او د نوروز د فرهنګي جغرافیا ولسونو ته ډېره نېکمرغه او بختوره ورځ بلل کېږي، د افغانستان د خلکو تاریخي دښمنانو، کابل پوهنتون ته نژدې او سخي زیارت ته څېرمه، شل دېرش داسې تنکي ځوانان په وینو ولمبول او د خپلو کورنیو له غېږې د تل له پاره جلا کړل چې (د نړۍ په څلورم خپه هېواد) کې، مېلې ته راوتلي وو او په لسګونو نور ټپیان شول.

له دې خونړۍ پېښې څلور ورځې وروسته، بیا هم همدې خبیثه ارواء، په لشکرګاه کې په ستر جنایت لاس پورې او د غازي محمد ایوب خان ورزشي لوبغالي په خوله کې، هغه هلمندي ځوانان په وینو کې لیت پیت کړل چې د یوې سپورټي مسابقې له لېدلو وروسته، خپلو کورونو ته روان وو!

دا غمجنې پېښې په ډاګه وایي چې د افغانستان دښمنان، په هره هغه وسیله چې ممکنه وي، زموږ د خلکو د خوشالۍ، پرمختګ او غوړېدا وړې – وړې ډېوه هم په غشو ولي او غواړي چې افغانستان د تل له پاره یو وروسته پاتې، ځپل شوی، وران، ویجاړ او خپه هېواد وي چې هیڅکله بیا په خپلو پښو ونه دري او د دوي د ستراتیژیکي، اقتصادي او امنیتي موخو په وړاندې د (نه) ویلو وس، اراده، ځواک، یووالی او پیاوړتیا و نه لري!

له بده مرغه چې د افغانستان د ماتولو له پاره، زموږ د تاریخي دښمن نقشه هومره ارته ده چې پولې نه لري او هر څه د دوي په ستراتیژیکو اهدافو کې راځي. له ولسمشر او ولسمشري مانۍ، ملي اردو، ملي پولیسو او ملي امنیت په شان له ملي بنسټونو نیولی، بیا تر هر بل ملي کادر او د ودانۍ او پرمختګ تر سمبولونو لکه ښوونځی، کتاب، قلم، ښوونکی، د برېښنا او تلفون ستنې، پلونه، برېښنا بندونه او حتی د خلکو خوشالي او ملي یووالي امید ټول هغه شیان دي چې دښمن یې د وژلو، ورانولو، سیزلو او ړنګولو پریکړه کړې او دا څلوېښت کاله کېږي چې همدې موخو ته د رسېدو له پاره، راز – راز ګوډاګیان روزي او د افغانستان په ضد په نااعلان شوی جګړه بوخت دی!

په کابل کې د نوروز د مېلې په ځوانانو، یرغل په حقیقت کې د افغانستان په یوه پرتمین عنعنوي جشن یرغل دی چې دا څو زره کاله د خلکو په زړونو کې ځای لري او د افغانستان په ټولو خلکو پورې اړه لري. همدا شان په لشکرګاه کې په هغه ځوانانو برید چې د یوې ورزشي سیالۍ له لیدو وروسته، خوشاله خپلو کورونو ته روان وو، د افغانستان د خلکو په ښادیو، خوشالیو او پرمختګونو برید دی چې باید مخه یې ونیول شي!

په داسې حساسو شیبو کې د افغانستان د ټولو خلکو دنده جوړېږي چې د سترو ملي مصالحو له پاره، د یو واحد صف په شانې، د دولت او هغه ځواکونو شا ته ودرېږي چې د افغانستان سیاسي خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي واکمني، اقتصادي پرمختګ، ملي یووالي، وروروليِ، ټولنیز عدالت، عامه هوساینه او ژوره نیکمرغي غواړي او د هغه جګړې په ضد د کابل او هلمند د پرلتونو ننګه او مرسته وکړي چې زیان یې افغانستان او افغانانو ته رسي؛ خو ګټې پکې د نورو دي!

د افغانستان خلکو ته ښایي چې له څلوېښت کاله جګړې او غفلت وروسته، پاڅي او د ملي یووالي تر جنډه لاندې، د هېواد د ژغورنې، سولې، روغې، جوړې او تفاهم له پاره رغنده ګامونه اوچت کړي؛ ځکه اوس ټول په دې پوه شوي چې د دې جګړې ګټه نورو ته ځي.

د افغانستان خلک باید په دې پوه شي چې زموږ تاریخي دښمنان په خړو اوبو کې کبان نیسي، موږ پخپلو منځونو کې جنګوي او زموږ د وینو په بیه ګټې کوي!!

دا بدمرغه جګړه باید پای ته ورسي!

آرین زی

پای

د اپریل لومړۍ ۲۰۱۸